HSE

Health and Safety Executive

Pashto

# د لاس-څنګلي رپيدل

## د کارکوونکو لپاره مشوره

## (Hand-arm vibration - Advice for employees)

### د لاس-څنګلي رپيدل څه شي دي؟

د لاس-څنګلي رپيدل هغه رپيدل دي چې ستاسو لاسونو او څنګلو ته په لاس نيول شوي برقي د کارآلاتو پواسطه انتقاليږي. د لاس-څنګلي رپيدلو سره زيات مخامخ کيدل د لاس-څنګلي د رپيدو مرض (هينډ-آرم وايبريشن سينډروم - HAVS) او د کارپل ټنل سينډروم سبب ګرځي.

### د لاس-څنګلي د رپيدو مرض (هينډ آرم وايبريشن سينډروم) څه شي دي؟

- ايچ اې وي ايس (HAVS) د لاس، څنګلي او مړوند په عصبي رشتو، د وينې په رګونو، عضلاتو او بندونو اغيزه کوي.
- که چيرې له پامه وغورځول شي نو کيدای شي چې ډير کمزوري کوونکي شي
- پدې کې د سپينې ګوتې رپيدل (وايبريشن وائټ فنګر) شامل وي، چې په متأثره ګوتو کې د سخت درد لامل ګرځي

### د کارپل ټنل سنډروم څه شي دي؟

د کارپل ټنل سنډروم يوه عصبي ناروغي ده چې پکې درد، سوې، د لاس په ځينو برخو کې کمزوري او بې حسي شامل دی. او د نورو عواملو تر څنګ، رپيدو سره مخامخ کيدو له کبله مينځ ته راځي.

### لومړنۍ نښې او اعراض يې څه دی؟

- په ګوتو کې سوې او بې حسي احساسول (چې د خوب د ناآرامۍ سبب ګرځيدلې شي)
- د ګوتو پواسطه د شيانو نه احساسول
- په لاسونو کې کمزورتيا (کيدای شي په مشکله درانه شيان اوچت او يا ونيولې شی)
- په سړې هوا کې او لنډه بل کې د ګوتو د څوکو سپينيدل او بيا سره کيدل او په بيرته راګرځيدو کې د درد احساسول (د سپينې ګوتې رپيدل - وايبريشن وايټ فنګر)

که چيرې تاسو د رپيدونکو آلاتو استعمال ته دوام ورکړی نو دغه اعراض به نور هم زيات شي، د مثال په ډول:

- ستاسو په ګوتو کې به بې حسی دايمی شي او تاسو به شيال هيڅ نشۍ احساسولې
- تاسو به د وړو شيانو لکه ميخونو او پيچونو په اوچتولو کې ستونځې ولری.
- د سپينې ګوتې رپيدل په مکرر ډول د پيښيدلو امکان لري او په زياتو ګوتو اغيزه کولې شي

### زه په کوم وخت کې په خطر کې يم؟

تاسو هغه وخت په خطر کې ياست که چيرې تاسو په پرله پسې توګه لاسي او يا د لاس پواسطه اداره شوي برقي آلات او مشينونه استعمال کړی لکه:

- کنکريټ ماتونکي، او کنکريټ پوکر
- شګه شيندونکي (سينډر)، اوړه کوونکي (ګرنډر)، د تبۍ ماتونکي (ډسک کټر)
- سورې کوونکي ځټکونه (هيمر ډرل)
- بريښنايي سکنه (چيپنګ هيمر)
- ځنځيرې اره (چينسا)، غوڅونکي بورس، د بوټو او خمبو لنډونکي، بريښنايي ريبونکي
- رندې يا ستنې لړونکي تمانچې

تاسو همدارنگه په خطر کې یاست که چېرې تاسو په کار کې استمالیدونکې هغه ټوټې چې د رپیدونکې مشینونو پواسطه د کار لاندې وي لکه لاسي اوره کوونکې.

## زه خطرونه څنګه کمولې شم؟

دا ستاسو د کار د څښتن مسئولیت دې چې تاسو له (ایچ. اې. وي. ایس– HAVS ) او د کارپل ټنل سینډروم څخه وژغوري خو تاسو باید د کار د څښتن څخه پوښتنه وکړۍ چې که چېرې ستاسو کار پرته د رپیدونکو آلاتو څخه د اجراء امکان لري او که نه. که داسې امکان و نلري نو:

- پوښتنه وکړۍ که چېرې مناسب کم رپیدونکې آلات استعمالیدې شي
- د تل لپاره د سم وسائل د هر کار لپاره استعمال کړۍ (چې کار په بړه سر ته ورسیږي او تاسو د لاس-څنګل ل رپیدو سره کم مخامخ شی ).
- آلات مخکې د استعمال څخه وګورۍ چې په سمه توګه ساتل شوي او ترمیم شوي وي چې د زیاتو رپیدلو څخه (چې د نقصونو له لکبه رامینځ ته کیږي ) مخنیوې وشي.
- ځان ډاډمن کړۍ چې غوڅونکي آلات تیره وساتل شي ترڅو ډیر مؤثر اوسي.
- د وسائلو د استعمال د وخت اندازه په یوه پیره کې کم کړۍ او د دوو پیرو په مینځ کې یو بل کار وکړۍ.
- د کار به وسائلو باندې د ضرورت څخه د زیات زور یا فشار راوړلو څخه ډډ وکړۍ.
- د کار وسائل په یو محفوظ ځاې کې وساتۍ ترڅو د بیا استعمال په وخت کې یې لاستي ډیر یخ نه وي.
- د وینې د ښه جریان زمینه برابره کړۍ په لاندې ډول:

- تود او وچ ساتل (کله چې ضرورت وي نو دسکلې، خولۍ او اوبو ضد جامې واغوندۍ او ګرمونکې تختې که موجودې وي، استعمال کړۍ.
- سګریټ څکول پریږدۍ او یا یې کم کړۍ ځکه چې د سګریټ څکول د وینې جریان کموي.
- د کار په وقفو کې ګوتو ته مساج او تمرین ورکړۍ.

## زه نور څه کولای شم؟

- د ایچ. اې. وي. ایس (HAVS ) د اعراضو پیژندنه زده کړۍ.
- د اعراضو راپور ربې له ځنډه خپل د کار څښتن او یا هغه څوک چې ستاسو د روغتیا کتنه کوي، ورکړۍ.
- کوم بې خطره تخنیک چې ستاسو د کار څښتن د ایچ. اې. وي. ایس (HAVS) څخه د خطر د کموالي لپاره وضع کړې وي، په پام کې ولرۍ.
- د مشورو لپاره د خپل د تجارتي اتحادیې د سلامتیا ل نماینده څخه او یا د کارګرانو له استازي څخه پوښتنه وکړۍ.

**ایچ. اې. وي. ایس (HAVS ) او د کارپل ټنل سینډروم څخه په مخنیوي کې د خپل د کار د څښتن سره مرسته وکړۍ مخکې لدې چې تاسو د پاره د ستونزې ښه غوره کړي.**

د نورو معلوماتو لپاره د ایچ. ایس. اي. وړیا خبرپاڼه INDG175 (rev2) د لاس-څنګل د رپیدو څخه د خطرونو کنټرولول او یا د www.hse.gov.uk/viberation ویب پاڼه وګورۍ.

دغه لارښونه د ښه عملکرد په اړه د معلوماتو لرونکې ده چې عملي کول یې په تاسو حتمي نه دي خو کیدای شي چې تاسو ته د ګټې خالي نه وي. دغه رهنما د ایچ. ایس. سي. د کتابونو، ISBN 0 7176 6118 0 له ۲۵ قیمت لرونکي بستو په ښه لاس ته راوړی شی. یوستوې وړیا نقلونه همدارنګه د ایچ. ایس. اي له کتابونو څخه لاست ته راوړلې شی. ټیلیفون: 01787881165.

کراون کاپي رایټ: دغه نشریه همدارنګه کولای شي په آزاده توګه بیا تولید شي خو چې د اشتهار، قرارداد او یا د تجارتي اهدافو لپاره نه وي. د لومړي ځل لپاره په 06/05 نشر شو. مهرباني وکړۍ مواخذ یې د ایچ. ایس. اي په توګه معرفي کړۍ.

INDG296(rev1) 06-05 C2000
د روغتیا او سلامتیا د مدیر په واسطه چاپ او نشر شو.